پوهاند محمد بشیر دودیال
۲۰۲۱/۱۰/۲۹

# د طنز محتوا باید د ژوند واقعیتونه وی او
# په افغانستان کې د طنز د لومړنی سیمینار یادونه

*__یادښت:__ د ۱۳۹۱ ل. کال په اوړي کې د اطلاعاتو او فرهنګ د مشاور اروانښاد جلال نورانی په نوښت وپتېیل شوه چې په افغانستان کې د معاصرو نثری –تخلیقی ادبیاتو د خوږ ژانر(طنز او طنزلیکنې) په اړه یو علمی سیمینار دایر شي. دهغه وخت د رادیو- تلویزیون رئیس ښاغلی ډاکتر واحد نظري(چې خپله هم ښه طنز لیکوال، سناریست، دفلم ډایرکتر اوادیتور، او د هنرونو په رموزونوپوه شېره او دسیمنار د تدویر لپاره دیو شمیر امکاناتو لرونکی و) هم دا موضوع په ډیره خوشحالی تایید او د هرډول مرستې وعده یې ورکړه. په دې توګه په کابل کې مېشت طنز لیکوالو او د اطلاعاتو او فرهنګ د وزارت دهغه وخت دمشاور(ج. نورانی) او اداری رییس ( جناب حکیمی) په ګډون مو د تدارک یو کمیسیون جوړ کړ. د سیمنار لپاره د بلنې په لیکنو، د سیمنار د تدویر دځای، ګډونوالو، لوګو او نورو مسایلو په اړه پریکړه وشوه. د ښار په څو ځایونو کی د سیمنار دتدویر خبرتیا او شعارونه هم ولیکل شول. په سیمنار کی دګډون لپاره ګڼ شمېردمطبوعاتو او رسنیومسئولینو، فرهنګیانو او لیکوالانو ته بلنه ورکړل شوه. دغه لاندني طنز لیکوال د کمیسیون لپاره وټاکل شول:*

*محترم احسان الله سلام، مسعوده خزان، کاتب پاخون، نورانی، دودیال، ډاکترنظری، عبدالنافع همت، نبی صلاحی، ژکفرحسینی، نصیر احمد نشاط، نجیب دهزاد، تواب امیری، سعیدی، ظاهر ایوبی، عثمان اکرم، ضیاکوشا اووحیدغروال. دسیمینار د دایریدو ځای ( د دولت درسنیو مرکز) وټاکل شو.*

*سیمینار په ټاکلی ورځ دایر او د هغه وخت د اطلاعاتو اوفرهنګ وزیر( رهین) هم ګډون وکړ. هغه مهال آغلی خور مسعوده خزان په کابل کې د (اچارخربوزه) په نوم یوه طنزیه اونیزه خپروله او په جلال اباد کی دوه طنزیه خپرونې( خاښی او ډانډس) خپریدې، آزادی رادیو د مربای مرچ او دګوړې اچار نشرول(دا چاپی رسنۍ نه،بلکې بریښنایی رسنۍ وه). دواړو(چاپی او بریښنایي) کې ډیرې ښې لیکنی او معیاری طنزونه خپریدل. لومړنی چاپي دریواړه مصورې هم وې. جلال ابادکې د دوو طنزیه خپرونو لیکوال په مستعار نوم و او محلی چارواکو یی د نشر تحمل نشو کولای، نو د تهدید او مالی سرچینو د کمښت له امله یی نشرات ودریدل.*

*په سیمنار کې ډیرې ښې مقالې ولوستل شوې او په پای کی یو پریکړه لیک هم د ټولو په خوښه صادر شو. د نوموړی سیمینار یوه پریکړه دا وه چې لوستل شوی مقالې به د یوې مجموعې(ټولګې) په توګه خپریږي، خو هغه مهال دا کار ونشو، فکر کیږی چې وزیر صاحب حکم ورنکړ. دغه مقدمه مې ځکه ولیکله چې که څیړونکي د طنز لیکلو په اړه لیکنه کوي، دا موضوع به هم پکې په یاد ولري. دغه قلم هم دهغه وخت دخپریدونکو طنزونو په کتنې سره سیمنار کې یوه مقاله ولوسته چې دلته وړاندې کیږي:*

***


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

# د طنز محتوا باید د ژوند واقعیتونه وی

د ژوند له واقعیتونو څخه زمونږ هدف د ټولني هغه حقایق او چاپیریال دی، چې مونږ خپله په هغو باندې اغیزه لرو. زمونږ کلتوري کچه، یوبل سره مناسبات، سیاسی حاکمه فضا، ورځنی معاملات او تعاملات، د پیښو په هکله تفکر او قضاوت، زمونږ خبرتیا له واقعیتونو څخه او د هغو پر وړاندې غبرګون او داسی نور د ژوند واقعیتونه دي. له بده مرغه دغه واقعیتونه هغسی ندی لکه چې باید وای. زمونږ ټولنه د نیمګړتیاوو، ابتذال، فساد، تقلید، زراندوزي، جاه طلبی، قومی تعصباتو، بی تفاوتی، تنبلی، د وګړو روحی نا انډولی، غفلت او نورو معایبو تر ټولو یو بد پراو تیروي چې په اصلاح او هغو ته د چاړواکو اوخلکو ځیر کولو کي طنز مهمه ونډه لرلای شي. طنز واهي تصورات او هسې د خلکو لپاره د کومې بوختیا ایجادول نه دي، بلکي له اصلاحی هدف څخه یو ډک رغنده او جسورانه اقدام دی چې د نیش او نوش له یو ظریف او هنرمندانه ترکیب څخه یو متعهد او د ژمنتیا لرونکی آګاهانه حرکت او د ژوند د واقعیتونو مثبت بدلون دی. طنز د پورتنیو ناولتیاوو او ترخوواقعیتونو د اصلاح لپاره غوره حربه او د ډیرو ارزښتناکو اجتماعی پیښو د انعکاس لپاره یوه مناسبه وسیله ده. که دغه حربه او وسیله د یوې ترخي خندا په بڼه وي، که د یوه حیرانوونکی اغراق په بڼه وي او که د عجیبو اضدادو د سره یو ځای کولو او په نورو بڼو وي، مونږ ورته ضرورت لرو. طنز نه ټوکه او فکاهی ده او نه د خلکو په شونډو په میخانیکی ډول د موسکا را څرګندول دي، بلکي په ناولتیاوو پوري خندل او په ترخو واقعیتونو اعتراف کول دي.

د افغانستان د اوسنیو ټولنیزو-سیاسی او اداري ذکر شویو ترخو واقعیتونو زمونږ د ملت په روح او روان ډیر منفی فشار وارد کړی دی. طنز کولای شی خلکو ته یو روحی علاج وکړځي. په دې توګه مونږ ادبی طنز ته اړتیا لرو. د ادبی طنز یوه ځانګړتیا دا ده چې له ظرافت او ځیرکتیا څخه ډک وي او له یوه ژور تفکر او درک سره له معنا ډک اصلاح کوونکی تخیل ارائه کړي.

په بله وینا: ادبی طنز د یوه ترخه واقعیت هغه ډول تجسم او ښودنه ده چې هلته د ژوند ناوړه اړخونه په هجو اوکنایي سره محکوم او ټکول شوي وي. زمونږ لیکوال د طنز بیلابیل ډولونه تجربه کوي لکه ژورنالیستی طنز، ادبی طنز (Satire)، ګروتسک (Grotesque)، پروډي (Parody) کارتون، طنزی ډارمې او تمثیلي ټوټي. ( د طنز د سمینار په مناسبت ښاغلی ج.نورانی دوه کتابونه او د مقالو یوه سلسله خپره کړی. وګوری: انیس د ۱۳۹۱ کال بیلابیلي ګڼی ) همداسی هم په پام کی ده چې د سیمینار د مقالو یوه ټولګه به هم چاپ شی.

طنز به هغه مهال د موجوده اصلاح وړ حالت د ښه کیدو په خاطر موثره حربه وګرځي چې د تقلیدی، تکراري او سطحی حالت څخه یو نوښت لرونکي ، ابتکار څخه ډک او ژور مفهوم لرونکي حالت ته واوړي. زمونږ د طنز اوسنی ټوله محتوا اداری فساد ته متوجه ده، چې هغه هم له هنریت څخه یو تش حالت لري. یو شمیر لیکني چې د طنز تر عنوان لاندې په اوسنیو مطبوعاتو کي خپریږي د طنز؛ په تیره بیا د ادبی طنز هغه ځانګړتیاوې نلري چې باید ویې لري. کله چې مونږ ورڅخه انتقادي یادونه وکړه، نو په تلویزیونو کی وړاندی کیدونکی تمثیلي ننداری د ابتذال تر بریده بی هنریته او پوچې دي، دمثال په ډول یې یادولای شو. دغه نمایشات نه یوازې دا چې هنریت او په زړه پوری والی نلري، بلکي د خشونت، له ټولنیزوآدابو څخه د لرې حرکاتو او آن دا چې د سپکو الفاظو لرونکی دي. که زمونږ اوسنی ادبی طنز او نمایشنامی د ۳۰ – ۳۵ کاله مخکی سره پرتله کړو؛ نه یوازې دا چې کوم نوښت او ښه والی پکی نه ښکاری، بلکي ډیرې بی محتوا شوی هم دي. له همدې امله کله کله که چیري کومه راډیو یا تلویزیون د ملی راډیو – تلویزیون د آرشیف / د ۳۰ – ۳۵ کاله مخکی یوه ډرامه، ننداره یا تمثیلی ټوټه ښکاروي، یا یې اعلان خپور کړی لیدونکی په بی صبری سره د هغو د لیدو په تمه ناست وي، دا ځکه چې هغو هنریت درلود، پیغام پکی و او دخلکو د آرمان یوه ځنډه پکي له ورایه ځلیده.

ادبی طنز د الفاظو او کلماتو په واسطه ښکلا ایجادوي. په تیره بیا نیش او نوش دواړه سره یو ځای کوي، خو کله چې هغه د ممثل په حرکاتو سره تمثیل شي نو مرکب هنر ورڅخه جوړیږي. په دې توګه هنر یو خلاقیت دی، چې ډیر دقت او لوړ استعداد غواړي.


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالي دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

اوسني وخت کې چې مونږ د طنز په هکله د لومړني سمينار لپاره چمتووالی نيسو( *دا دهغه وخت خبره وه، سيمينار بيا په بريالی ډول داير او پای ته ورسيد* )، د ځوانو ليکوالو پاملرنه دغه ژانر ته راګرځوم.

طنز هغه ډير پيچلی، په زړه پورې او سمون راووستونکی، خو له ستونزو ډک ادبی ژانر دی چې يواځې د پوره مطالعې او ښې تجربې په لرلو سره لکيل کيدای شي. بايد په سلګونو کتابونه ولولو تر څو يو ښه طنز وليکل شي. ښه طنز به موجوده ناولتياوې، فساد او نيمګړتياوې بر بنډې او دهغو اصلاح ته به لاره هواره کړي. طنز که له يوې خوا خندا راولي او روح ته تسکين ورکوي، له بلې خوا د مبارزې او بيا رغونې لپاره اصلاحی وسيله کيدای شي. طنز د وروری، قانون، عدالت، تفاهم او روغ نيت د بيرته راوستلو لپاره ځواکمنه سرچينه ده، هغه ښکلي انسانی او شريفانه آرمانونه چې څو کاله مخکې مونږ لرل هغه به بيرته زړونو او دماغونو کې را ژوندی شي. زمونږ خلک له روښاندو هيله لري. د دوی سترګې په اوسنيو نا هيليو کې د همدوی خوا ته اوړي، نو ځکه روښاندي د قوی روح په لرلو سره هم انتقاد کوي او هم انتقاد منی او هم اصلاح ته ملا تړي.

که د اصلاح او د سمون راوستلو لپاره د مستقيم بيان څخه برعلاوه، له غير مستقيم بيان ( هنريت او طنز ) څخه کار واخيستل شي، نو د اصلاح او سمون لاره به لنډه شي. ځکه د انسان د روح يو عجيب خصوصيت دا دی چې تر سيده بيان او تاکيد څخه، غير مستقيم يا نا سيده اشاره وربادنی زياته اغيزه لري. په دی توګه د اصلاح او سمون دروند مسئوليت د طنز ليکونکی غاړی ته ورپريوځي. د مونږ سمينار په هر ټکی تاکيد کوي. زموږ د سيمينار مخاطبين د پياوړی روح لرونکی، لوړو انسانی آرمانونو ته ژمن ليکوال او هنرمندان، د لطيفو او ظريفو عواطفو خاوندان، او د لوړ ټولنيز شعور لرونکي روښادي دي. که مو په کلکه اصلاح او سمون ته ملا وتړله، نو بيا به يو نيکمرغه ملت ياستو، په يو ملت کی د طنز، ټوکو،مزاحيه، سخريه او لطايفو شتون د هغه د روح ځواک او د تکامل په لوري يې يون ښکاره کوي.

ستاسو له پاملرنې څخه مننه



برای مطالب ديگر پوهاند محمد بشير دوديال روی عکس کليک کنيد


لطفاً مقالات خود را به اين آدرس ارسال بداريد | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com